Afghanistan Digital Library

adl0828

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

# نظامنامه

## د رخصتۍ د مأمورینو

چه کومې ضمیمې د دې په اصل د مادو کښې لیکلې شویدي

په (اول) د (قوس) سنه ۱۳۰۰

مطبعه د دوه شرکت "رفیق" کابل کښې چهاپ شویدی

شمار د چهاپ :- ................ (۵۰۰)

قیمت د یوې نسخې ................ (۱۲-پول)

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g Image 3 of 16

بسم الله الرحمن الرحيم

نظامنامه

# رخصتي د مامورينو

رخصت درې قسمه دی:-

اوّل: مقرري رخصت چه د دولت له خوا

سره له تنخواه رخصت ورکاوه کیږي .

دوهم: ضروري رخصت یعنی هغه رخصت

چه یو مامور ئی په سبب د کم ضرورې

کار نیل له دولت څخه رخصت غواړي

سره له تنخواه دده ته رخصت ورکاوه کیږي .

دریم: د مریضي رخصتي او نور رخصتونه

## مقرري رخصتي

(۱) قاعده. مقرري رخصتي سره له تنخواه په کال کښې شل ورځې د دولت له خوا منظوريږي، که مامور هر کال شل ورځې رخصت واخلي، یا یې له دوه کلو څخه وروسته یا پس له دريو کلو دوه میاشتې، اختیاروي، او پس له تیریدلو دریو کلو په څلورم، یا پنځم، یا شپږم کال، په همدې قیاس تر لسم کال پورې یا زیاد له هغه که وغواړي چه نیمه میاشت او شپږ میاشتې رخصت واخلي اضافه له دوه میاشتو رخصت نه ورکاوه کیږي، مامور له اختیار دی، چه شل ورځې رخصتي خپله په یو کال کښې یو ځلي اخلي یا ئې بیل بیل دوه ځلي غواړي.

(۲) په باب د مقررې رخصتۍ کښې، آمر مافوق د ...

د کارو د مامورینت په غور سره کوری چه کرد
مامورین کیږي شلی رخصت شي په اجرا د کار
کښې ډیل پښیږي، دا شل ورځنۍ رخصتی
د دغو مامورینو د په تل رنج سره (وړاندې ورسته)
اجرا شي، چه هم په اجرا د کار کښې ډیل پېښ
نه شي او هم رخصتی د مامورینو ورکړه شي

## (ضروری رخصت)

(۳):- ملتّه د ضروری رخصت په یوکال کښې سره
له تنخواه تر شلو ورځو پوری دی، چه په قلم
د احتیاج د مافوق آمرانو له خوا ورکاوه کیږي.

(٤):- په ضروری رخصت کښې، د مامورینو مافوق آمران
د غور کوي، چه لپاره د ضروری کارونو رخصت
ورکړه شي.

(۵):- دا وازی بیلی بیلی رخصتی یو سیمی ته په یو کال
کښې زیاد له شلو ورځو شپږ نه ورکاوله کیږي.

(۶):- د رخصت ضرورې برسیره په مقررې رخصت
بانډې دی، مګر یوه وعده کښې مقررې رخصت
او ضرورې رخصت دواړه یلیسي یو ځای نه ورکول
کیږی.

(۷):- په باب د رخصتی د مریضی او نورو رخصتیو کښی
په قرار د قاعدې د نظامنامې د حاضرۍ اجرا
کوله شی.

(۸):- پر وقت د رخصتی د نائب الحکومګانو او اعلی
اولو یا او نورو حاکمانو او علاقه دارانو کښی، مستوفیان او
مدیران او ماموران د مالیې د حکومت کارونه
کوی، او په حال د غائب والی او رخصتی د
د وزیرانو کښی، کارونه د دوی له حضور د پادشاه
څخه بل وزیر یا وکیل ته سپارل کیږی.

(۹):- نور د ماموریني د حکومتیو او د ولایتو چه رخصت اخلی
په عوض د دوی کښی کارونه د دوی به قانونی وکیلان

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g Image 7 of 16



د دوی اجرا کوی مثلاً په وقت د غائب والی
د مستوفیانو او اعلیٰ سررشته دارانو او مدیرانو
مامورینو د مالئ کښی، مدیر یا مامور د محاسبې
یا سر کاتب یا اوّل کاتب د مالئ هم اسی د نکه
په ټولو دائرو د حکومتی کښی د اول مامور وکالت
دوه یم مامور د همغی دائری کوی.

(۱۰):- مرکزی مامورین له دائرو د وزارتو څخه
په منظوری د وزیرانو، او له مستقل مدیریت
او له ریاستو د محکمو څخنی، په منظوری د مدیر
او رئیس د هغه ریاست رخصت آخلی.

(۱۱):- رخصتی د نائب الحکومگانو او د اعلی حاکمانو په
واسطه د وزارت داخلیه په حضور د اعلیحضرت
عرض او اجازه غوښتله کیږی، د نائب الحکومگانو
او د اعلیٰ حاکمانو رخصتی په هغه ځای کښی
چه تیلفون نشته ترینځه ورځو او په هغه ځای کښی

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g Image 8 of 16



چه تیلفون شته دی تر دړی ورځو پورې
اجازه غوښتل له وزارة داخله ځنی ضرور
نه دی ، او قانونی وکیل د دوی د اجرا د کار
د دوی کوی ، لکن خبر ورکول وزارة داخله
ته ضروری دی .

(۱۲) : رخصتی د وزیرانو په شان سره امر او اجازه
د اعلیحضرت پوری تړلی دی ، وزیران د دولت
په ضروری رخصتی کښی چه
تر دری ورځو پوری وی ورغلی
یواځی هغه مدیر د مامورین د وزارت تر
چه دوی ته ئې نسبت کاوه شی خبر ورکوی
او که زیاد له دری ورځو پاسی خواهش
وکړی ، په واسطه د منشی د مجلس وزراء له
حضوره د اجازه وغواړی ، او په خواهش
د تقرری رخصتی کښی به په هر حال کښی

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g Image 9 of 16



په واسطه د منشي د مجلس وزرا له حضوره د رخصت
حاصلوي .

(۱۳): هر کله که یو سړی زیاد له معلوم مدی وعدې
د رخصت خپل ځنډ ولي له معقول علت رخصتي
غیرحاضر شوئ خپل خدمت ته حاضر نه شي
په قرار د قاعدې د نظامنامې د حاضرۍ
مسئول او جواب ده دی .

(۱٤): په وقت د ضرورت کښې لکه وقت د جنګ
یا کم ضروري خدمت چه د دولت
تربلیش شي، د رخصت نه ورکاوه کیږي
اګر که وعده د رخصتي د هغه رسیدلې
وي، او که بعضې په رخصتي تللي وي
او شته د دوی لپاره د خدمت ضرورت
که هر څه زمانه د رخصتي د دوی
نه وي پوره شوی بیرته غوښتل کیږي

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g Image 10 of 16



(۱۵):- رخصتي په قرار د تکټ د هغو آمرانو اجرا کېږي
چه بیان شول.

(۱۶):- د دې پاس مادو د دې نظامنامې له ابتدا د (۱۳۰۲)
څخه رعایت کاوه شي.

(۱۷):- هغو لښکري منصبدارانو ته چه په جوړه ولو
د سوانح عمرې خپلو سره مکلف دي،
سم له نظامنامې د رخصتي د مامورینو سره
هم رخصت ورکاوه کېږي.

(۱۸):- لپاره د میلې د قلبه کشي یوه ورځ رخصتي د
مامورینو منظوره دي چه په تصویب د مجلس
د مشورې او تصدیق د آمر مافوق د هغه ځای
د حکومت، نسبت د موسم د هر ځای ته له تخلیه
د حوت څخه تر تخلیه د حمل پورې یوه ورځ
به معلومیږي، او مامورین به په هغه ورځ
کښې رخصتیږي.

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g Image 11 of 16



(۱۹): هغه مامورین چه لپاره د حج د بیت الله شریف د رخصت
وغواړي هر کله که قانوني رخصت لري مانړتې
آمران د دوی به په قرار د حکم د (۱) او (۲) او (۴)
مادې د نظامنامې د رخصتي د هغو ورځو چه حق
د رخصتي لري، سره له تنخواه او اضافه له هغه تخه
بې له تنخواه اجازه ورکولای شي.

(۲۰): هغه ماموران چه لپاره د سیاحت (جهان گشتي)
رخصت وغواړي ورته د قانوني رخصتي خپلې
سره له تنخواه آخستلای شي، او اضافه پر هغه پس له
استعفاله مأموریته او پس له حاصلولو د پاسپورتې
تللی شي.

(۲۱): هغه مامواران چه لپاره د علاج کولو د مرضو خپلو
خواهش د تللو بهر مملکوته وکړي لازم او ضرور دي
دي، چه له مملیونو یا له مأمورینو د طبیه د هغه
ځای تحه تصدیق حاصل کړي، په دا

مضمون چه د ننګه په افغانستان کښې امکان د
علاج ئې نشته، د مافوق امرانو خوا پس له ضبطو
د هغه تصدیق څخه رخصت ور کاوه او د ورکول
د تنخواه د دوی په دې قرار سره کیږي چه
لاندې بیانیږي.

هر کله که د مریض د رخصت حق لري،
د هغې اندازې د دوه میاشتو تنخواه پوره او زیاد پر هغه
بعدې تر یو کاله پورې سم له (۱۲) مادې
د نظامنامې د حاضرۍ سره په موجب د تصدیق
د هغو د اکټرانو چه هغوی څخه علاج کوي یا په موجب
د تصدیق د نمایندګانو د افغانی مقیم د هغه مملکت
ورکول کیږي؛

(۲۲) هغه مامورین چه نظر (۱۹) او (۲۰) او (۲۱) مادې
د دې نظامنامې ته خارج ته ځي؛ وظیفې د دوی
ترو ته د پوره کولو حق وعدې د رخصتۍ د دوی

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g Image 13 of 16



چه مافوق آمرانو د دوی دوکیلانو، نور ماموران یا
وکیل د دوی په ځای په قرار د آخری حصه د (۱۲) مادی
د قانون نامی د حاضری سره کوی؛ او که پس له تیریدلو
د دی معلومه شوی وعلاوه وظیفو خپلو ته حاضر نشه
نور ماموران په عوض د دوی کښی مقرریږی، او په
حال د بیرته راتللو کښی هغه ماموران په قرار د
لیاقت د دوی سره په نورو ماموریتو کښی لزوماً
چه مافوق آمر د دوی ئی مناسب وګنی مقرریږی.
(۲۳):- هغه کسان چه شخصی تنخواه لری، هر کله چه
لپاره د علاج د مرض خپل یا لپاره د حج د بیت الله
شریف یا لپاره د سیاحت او جهان ګشتی پس له
اخستلو د پاسپورت بهر ملکونو ته ځی، که لپاره
د علاج ځی په قرار د (۲۱) مادی او که لپاره
د حج د بیت الله ځی، په قرار د (۱۹) قاعدی
د دی نظامنامی، او که لپاره د سیاحت بهر ته

## دروغی بی له تنخواه تلای شی

(۲۴) هغه کسان چه شخصی تنخواه لری او په قرارد (۲۳) مادې د دې نظامنامې سیاحت لپاره بهرته لاړ شی په قطع او دو دکل د تنخواه د ورکولو تاریخ
در رسیدلو سرحد، د افغانستان په حال د تل او ننوتلو نظر په تاریخ
د ملاحظې د سرحد تر رسیدو پاسپورت ته دوی کښلی او نظر ور کړی د سرحد [illegible] اعتبار ور کاوه شی

(۲۵) هغه مامورین چه له یو وزارته نه بل وزارت ته بدلیږی یا نوی مقرریږی هر کله
کوم غواړی چه تفریحی رخصت د واخلی او تیرو کلو حق د تفریحی لری پیدی کال
کښو چه نوی مقرر شوی دی په قرار د (۱) او (۲) مادی د دې تامینات تفریحی
رخصت خپل پوره اخستلای شی او له تیرو کلو حق نه لری. او د رخصت
د تفریحی د دی کال د خپل شخصی ترخو د د میاشتی تیری شی شل ورځی
رخصت نشی اخستلای، لکن که د شی له پوره کیدلو د (۲) میاشتو تر شخصی خوښې ور
پوره کړی دوه نور غواړی ور کاوه کیږی، هغه مدیران چه په یو وزارت او
او مستقله اداره کښی تمام کال نوکری لری خپل تفریحی هر کله چه وغواړی
له هغه وزارته او اداری شخصه چه نسبت ئی ورته کیږی ورکاوه شی
پداخلولو دی نظامنامی په جمله د نظامنامو د دولت کښی او په
اجراء کولو د حکمو د مادو د دې سره امر او اراده کوم.

http://hdl.handle.net/2333.1/jh9w0w0g Image 15 of 16